# د ډاکټر محمد اعظم اعظم روماني شاعري

# Romantic Poetry of Dr. Muhammad Azam Azam

Muhammad Sulaiman [1], Noor Muhammad Danish Bettani [2]

Dr. Muhaamad Azam Azam is a significant figure in modern Pashto poetry. He was a graet dramatist as wll. He was grown up I a society which gratly incouraged him to draw the attention of the society members. He wrote many poems in Pashto which make him the center of focus for other poetry lovers. As a romantic poet his diction and style is exemplary. He has co-existed romance, love and aesthetics in his poetry. His romantic poetry became popular among Pashto writers and music lovers in particular.

ډاکټر محمد اعظم اعظم د پښتو په نوې شاعرۍ کښې خپل لیک، خپل کلمات او خپل فکر لري ـ هغه د زړهٔ خبرې په ډاګه کوي ـ په دې تحقیقي لیک کښې مونږ دا کوشش کړے دے چې د ډاکټر محمد اعظم اعظم د روماني شاعرۍ هغه ټول اړخونه رابرڅېره کړو کوم چې د عام وګړي د نظرونو نه وتي نهٔ دي ـ

د ادب په دواړو لویو څانګو لکه شاعري او نثر دواړو اصنافو کښې ډاکټر اعظم د خپل فکر نیلے زغلولے دے ـ د هغهٔ فن پارې هغه ژوندے ساتي ـ د پښتو ادب د لوستو او باشعوره خلقو تنده د هغهٔ شاعري تر ډېره حده سړوي ـ د ډاکټر اعظم انداز، رنګ او اهنګ د نورو شاعرانو نه جدا دے او دا رومانیت کله کله داسې هم څرګند شي چې هغه د حقیقت او حقیقي انسان یو رښتونے عکس وړاندې کړي ـ د هغهٔ د روماني شاعرۍ په حقله سترو پوهانو او لیکوالو خپل خپل خیالات څرګند کړي دي ـ دا ځکه چې د هغهٔ روماني شاعرۍ دا خلق په چپ پاتې کېدو او خولهٔ نهٔ پرانستلو او قلم نهٔ پورته کولو مجبور نهٔ کړے شو ـ د هغهٔ د روماني شاعر په حقله ډاکټر اباسین یوسفزے لیکي:

> "د اعظم صیب د غزل سپېڅلے روماني رنګ د ټکو انتخاب، غنائیت او استکاري د هغوي د فن د کمال دلالت کوي۱ "

1 Ph.D Research Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar.
2 Assistant Professor , Pashto Academy, University of Peshawar.

د هغهٔ مینه د روایتي انداز نه په بل رنګ کښې ده س هغه خپله محبوبا د خپل فکر په رڼښمینو مهینو پړدو کښې د ځان نه پټه ساتي - د هغهٔ د اسلوب او انداز داسې ښکاره عکسونه دي چې لوستونکي په خپل ځان کښې ورک کړي - ډاکټر اعظم خپل ځان په خپل فن کښې داسې رنګ کړے دے چې فن ئې اعظم او اعظم ئې فن کړے دے :

ساقي کړې سترګې ډکې د پیالو پله رائحي
سپرے ئې وروي د مېکدو پله رائحي
غمونه د دوران درته په لاره کښې ولاړ دي
په پټه د سرور د څو لمحو پله رائحي۲

خمار، مستي، پیالۍ، شراب او سرور د هغهٔ په شاعرۍ کښې بار بار راتلونکي کېفیتونه دي - دا کیفیتونه نهٔ صرف روماني دي بلکې د رومان سره سره دا د علامتونو او استعارو او اشارو په توګه هم کارولے شوے دے - چې د اشارو سره سره پرې لوستونکي د نورو کیفیتونو او حالتونو اندازه هم اخستے شي -

اوخانده چې زهر د حالاتو هم ے اوګټم
څو پورې به ماته وي حېراني پېماني پرتې
داسې چې درنې او د نشو ډکې راوړې وي
سترګې دې په زړهٔ کښې زما پاتې شي پرتې پرتې۳

زیاتره روماني شاعران د ژوند تراخهٔ حقیقتونه په ډېره پسته او زړهٔ راښکونکي ژبه کښې بیانوي او د دې اورېدونکي بیابیا د دې په اورېو خپل زړهٔ مرادوي او دوي په یو داسې روماني او پرکېفه فضا کښې پرېږدي چې د هغې نه واپس ستنېدل ګران شي - د روماني ادب تخلیق کاران د خپلو رنګینو خیالونو په زور د عشق ، مینې او محبت خوارهٔ نور هم خوارهٔ کړي - څو که دا د حقیقت سره نزدې نهٔ وي او نهٔ په حقیقت اډانه لري ولې بیا هم د ټکو په زور دا احساسات دومره ښائسته شي چې د حقیقت ګمان پرې کېدے شي - ډاکټر اعظم بالکل هم دغه شان روماني شاعري کړې ده - او دا ځکه ئې د رحمت شاه سائل د وېنا تر مخه :

” اعظم ته زۀ د ډاکټر په نظر نۀ ګورم بلکې د يو شاعر په نظر ورته ګورم ـ هغه نظر دا دے چې د هر صنف د کاميابۍ باوجود د هغۀ ژوند لکه د يو فنکار بې ترتيبه ؤ او د دې هغۀ ډيره پروا هم نۀ کوله او هم دې بې پروايۍ د هغۀ د قلم نه د شاعرۍ په شکل کښې داسې ملغلرې اونوستلې چې د هغې رڼا او انعکاس د هر لوے او وړوکي نظرونه اوبرېښول او د رومان په شکل کښې دا ملغلرې بيابيا د هغۀ په غزل ، نظم او د شعر په نورو چوکاټونو کښې په نظر رائحي ـ ٤ “

ښاغلے اعظم د ليک لوست سره سره د ماحول او په ماحول کښې د موجودو څيزونو مشاهده هم د زړۀ د کومي کوله او دې مشاهدې د هغۀ احساس داسې اوپارولو چې د قدرت د ښکلو او د قدرتي مناظرو په ستائيلو لګيا شو ـ دا ټول د يو حساس فطرت لرونکي هغه احساسات دي چې د ټکو په ژبه د شعر په شکل کښې سر وهي او دا غېر ارادي هم وي ـ په دې کښې د شاعر د وس او د خپل حسي، وهبي، وجداني او جبلتي احساساتو هغه منظرکشي اوشي چې وروستو بيا شاعر په خپله هم حق دق پاتې شي چې دا کله؟ څنګه؟ ولې؟ او په کوم حال کښې اوشو ـ خو بس دا يو فطري احساس دے چې د رومان ليکونکي د قلم نه راوځي ـ

د ګلو ژبې لمبې شوې راغے شور د بهارونو
د قفس تيلو ته خبر شه، اخلم اور د بهارونو
سرۀ ګلونه د ګلچين شي شنې چمنې د خزان شي
تش په توره زۀ رسوا يم تش په تور بهادرونو٥

او هم دغه شان بل ځائے کښې دا احساس څۀ دا رنګ پارلے شوې ښکاري ـ چې د خپل محبوب اداء انداز او اواز د دۀ په غوږو ډېر ښۀ لګي او هغه خپل محبوب په روماني دنيا کښې دومره معتبر او اوچت ګڼي چې د ګل او د ګلستان نه ورته هم ښۀ ښکاري ـ لکه چې وائي:

غږ چې په غوږ مې د جانان اولګي
نظر مې بره په اسمان اولګي
ګل دې د شونډو سره مه ځختوه

هسې نه اور په ګلستان اولګي
مينې ښر د خپل حجابه نۀ شي
اور به د حسن په دامان اولګي ٦

د ډاکټر اعظم اوچت فکر او د حقيقت نه ډکې جذبې د هغۀ شاعرئ له داسې يو ښائسته او زړۀ راښکونکے انداز وربخښي چې د اولس ورانديز د اولس زخمونه د انسانيت احساسات ، خارجي او اندروني احساسات په خپله لمن کښې رانغاړي او چې هغه د خپل زړۀ په ساز کښې نغمه اوچړي د هغې اثرات دومره پرکيفه او حقيقت ته نزدې وي چې هر چاته په کښې د خپل زړۀ خبره ښکاري او په خاصه توګه دردمند زړونه په کښې خپله دوا لټوي ـ دا هر څۀ د يو زور او فراخ فکر غواړي ـ دا ټول لوازمات او رسا توکي د هغۀ په شاعرئ کښې په دلو دلو پراته ليدے شي ـ هم د دې په وجه د هغوي د روماني شاعرئ دا انداز هغوي ته د رومانيت په ميدان کښې د يو زورور شهسوار په حيث دوام وربخښي ـ

ستا تورو زلفو په جهان کښې تورې شپې خورې کړې
د زړۀ داغونو چې په زړۀ زما تيارې خورې کړې
زما د اوښکو ستوري کېدېښودل زما مخې ته
شولې سپوږمۍ خپله رڼا کښې مانه پټه شولې
د هر ښائست سترګو کښې تا راته خپل ځان راوښود
په هر نظر کښې دې د مينې يو جهان راوښود
خو چې ما تا پسې تا اوکړل تا اوليدمه
د هر يو ښکلي په ښکلا کښې ما نه پټه شولې٧

ډاکټر اعظم د انسانيت زخمونه هم په خپله سينه اخستي دي او د بېرني ژوند غمونه ، محرومۍ او المئې ولې په خپل وجو کښې رانغښتې دي ـ خو کله کله دا المئې او محرومۍ او غمونه په دۀ داسې کيفيت هم راولي چې دے يو روماني جهان ته بوځي چې وجه ئې د دۀ اضطرابي سوچ دے ـ هم دغه اضطراب هغۀ له په رومانيت کښې هم داسې د الفاظو بيان او د ټکو جوړښت وربخښي کوم

چې د دهٔ شاعرۍ نوره هم قدرتي، رېښمینه، د مزو خوشحالو او نورو روماني کیفیاتو نه ډکوي ـ د رومانوي شاعرۍ دپاره چې کومې تقاضې ډېرې اهمې دي په هغې کښې فطرتي ښکلاګانې، ورشوګانې، فکري ازادي ، د کلهم انسانیت د فلاح او خوشحالۍ لارې چارې لټول وغېره هغه کیفیات یا واقعات دي کوم چې یو روماني شاعر له په شاعرۍ کښې اعلی مقام ورکوي او د دغې ټولو تقاضو ښاغلے ډاکټر اعظم ښهٔ پوره پوره خیال ساتلے دے ـ د هغهٔ د روماني شاعرۍ په حقله ښاغلے وزیر شادان څهٔ داسې وائي:

" د هغهٔ لوړ تخیل ، رسا فکر او حقیقي جذبې چې څهٔ پنګه راټوله کړې ده هغه ئې اولس ته په یوه ښائسته لهجه او پېرایه کښې وړاندې کړې ده ـ د اعظم صېب دا انداز هغوي ته د رومانیت تاج ورپه سر کوي او په زور داد اخلي۸ "

لکه څنګه چې وړاندې ذکر وشو چې فطري ښکلاګانې ، د ښکلو او ښائسته څېزونو منظرکشي کاو د زړو او روایتي اقدارو نه ډېره کول ، د رومانیت دپاره او د روماني شاعرۍ دپاره ډېر ضروري توکي دي ـ کله مونږ د ډاکټر اعظم په دغه اړه شاعرۍ اوځېړو ـ نو دا خبره جوتېږي چې هغهٔ په په خپله شاعرۍ کښې دغه بغاوت په حقه کړے دے ـ هر کله چې انسان د ماحول د تنګ نظرۍ ښکار شي نو دا تنګ نظري هغه دومره قېد کښې اوساتي چې هډو څهٔ د وئیلو یا د خپل زړهٔ د اظهار د لرلو توان هم بیا نهٔ مومي ـ نو دغه وګړے د دنیا نه ګاره کشي او د سماج په بلها کشالو کښې راګېر شي او بل طرف ته روماني شاعر روښان فکره وي او چشم پوش نهٔ وي ـ هغه چې څهٔ وینې څهٔ ګوري یا څهٔ محسوسوي نو د هغې اظهار ښهٔ په نره کوي ـ د ډاکټر اعظم فکر دومره رسا ؤ او مطالعه ئې دومره ژوره وه چې د پښتو ژبې سره سره د اردو ژبې د شاعرانو او په خاصه توګه د روماني شاعرانو شاعري ئې هم د نظر نه وتې وه ـ د ستر لېوني فلسفي عبدالغني خان په مړینه چې کومې د عقیدت پېرزوئینې دهٔ په خپل یو نظم لېونے فلسفي کښې کړې دي ـنو ښکاري داسې چې موصوف په خپله هم د دغه مرحلو نه تېر شوے یا د دغې کېفیاتو احساسات په زړهٔ کښې خوندي ساتلي دي ـ ښکاري داسې چې لکه د پښتو رومانوي شاعرانو غني خان، اشرف مفتون په شان دهٔ هم په خپله شاعرۍ کښې د رومانیت د دغه ټولو تقاضو خیال ساتلے دے ـ

ځو چې د مينې مرګ وفا نيشته
تر هغې حسن له دنيا نيشته
خوارۀ خوارۀ شئ د زړګي دردونو
نيشته د خوږو مسيحا نيشته
زما د زړۀ د لېونتيا نه وړاندې
د محبت هو دنيا نيشته
عشق چې ايمان راوړو زړۀ په کتاب
اعظمه تا ته هم ګناه نيشته ۹

شاعر د محبت او سوز و ګداز د وجې په داسې کيفيت کښې ډوب شي چې دۀ ته د خپل عشق د اغاز او انجام هم څۀ پته نۀ لګي ـ بس يو جنون، فرار او لېونتوب په دۀ داسې مسلط شي چې په بې خبرۍ کښې د ژوند د يوې لمحې نه هم ناخبره وي او د محبت د فنا نه انکاري ښکاره شي ـ د مينې منطقي انجام ورته انجام نۀ ښکاري ـ دا ځکه چې دا يو بيل پرکيفه کيفيت وي ـ لکه يو ځائے کښې اعظم صېب وائي:

عشقه دغه دې انجام د بې خبرۍ شو
هر انجام دې ابتدا محسوسومه
ستا د مخ آئين کښې هسې رنګ فنا شوم
اوس په هر لوري بقا محسوسومه
مست رنګين دې وي ساقي ستا په محفل کښې
د جنت آب و هوا محسوسومه
يو ساعت له دې چې غم راسره نۀ وي
په ژوندون کښې څۀ خلا محسوسومه ۱۰

د زاهد د خشک او مطلبي عبادت هم ډاکټر اعظم په خپله شاعرۍ کښې ځائے کړے دے او دا اسلوب او انداز بيان د دۀ نه مخکښې شاعرانو لکه فضل حق شيدا، اشرف مفتون او غني خان

هم خپل کړے ؤ ـ دغه شاعران په حقیقي توګه د رومانیت په مېدان کښې ډېر پرمختګ والا خلق دي ـ د دې خلقو سوچ نوے ؤ او د روایتي او فرسوده روایاتو نه ئې ښنده کوله ـ ځکه چې د خدائے سره تعلق جوړول او خدائے طرف ته ستنېدل د انسان مجبوري هم ده او ضرورت هم ـ ولې که دا تعلق د دوزخ د ویرې او د جنت په طمع شي نو بیا په کښې انسان تېروتنې کوي او اعظم صېب په خپله شاعرۍ کښې هم صفا سوتره خیالات څرګند کړي دي او دا ټول د رومانیت غمازي کوي:

مسئلو نه د زاهد د میو بوي ځي
خدایه شکر چې جنت هم مېخانه شوه
م دي وینم د سبا لارې راښایه
ستا په تورو تورو زلفو کښې مې شپه شوه
شپې څوکۍ کوه چې سترګې دې ورنۀ شي
د سبا ناوې مې سترګه کښې اودۀ شوه
تصور کښې ئې د زلفو په ټال ځانګه
که اعظمه ژوندون لاره اوږده شوه ۱۱

که د رومانیت په فلسفه کښې مونږ د حسن بحث اوچېړو نو د ډاکټر اعظم د جمالیاتي تصور څۀ داسې خاص خاصیتونه لري چې هغه دۀ له یو خپله ځانګړتیا وربخښي لکه د هغۀ د حسن تصور د مینې، وصال او دلفرېب خویونو نه جوړ دے ـ هغه حسن په نرمۍ، پستۍ، نزاکت او لطافت کښې د لېولو سره سره د وقار ، رعب، عظمت کښې هم لټولي ـ لکه چې وائي:

حسن څۀ دے اے زړګیه
د احساس یوه چپه ده
او د خوب یوه جُوټه ده
یو سرور د ماښامونو
یو غرور دے د جامونو

یو اغاز د انجامونو
دا د ستړي زړۀ دمه ده
او د خوب یوه جُوړه ده
حسن څۀ دے اے زړګیه
دا یو رنګ د بهارونو
په رنګ رنګ کښې د ګلونو
دا سودا د چا د زلفو
د سنبلو په سرونو
په پستو وربمو کښې نغښتي
یو باریکه لوپټه ده
د احساس یوه چپه ده
او د خوب یوه جُوړه ده ۱۲

فطرت یو داسې دلفریب او حېرت انګېز حسن لري چې حساس خلق مجبور شي چې د فطرت په اړه څۀ اوليکي ـ لکه د غرۀ دنګه څوکه، واورې، سپرلي، د ونښو نه ډکې ډکې ورشوګانې چې د قدرت ښکلا نوره هم زیاتوي ـ دا ټول فطري هنرونه چې هر کله په شاعرۍ کښې راشي نو قاري په کتو مجبور کړي ـ لکه چې وائي :

ګلستان پرې د وختونو ښائسته دے
ښائسته دي ورشوګانې پرې د عمر
دغه ګل چې ستا په لاسو کښې خندېږي
تازه کېږي ارزوګانې پرې د عمر ۱۳

ډاکټر اعظم د خپلې تجربې، مشاهدې او د خپل احساس په زور په داسې رنګینه او زړۀ راښکونکې پېرایه کښې د ژوند هغه رنګینۍ د خپل قلم لاندې راوستې دي چې که غزل دے او که نظم د دې کتونکي او لوستونکي ورته بیابیا د اورېدلو په ارمان دي ـ هغۀ خپلې شاعرۍ ته د جدت

سره سره يو نوے رنګ او نوے آهنګ هم وراوبخښلو ـ خپل يو غزل نما نظم کښې د خپل محبوب د حسن ستائينې کوي او دا ستائينې هغه په داسې انداز کوي چې عقل ورته لل ګل پاتې شي ـ د خپل محبوب د پيغلتوب رنګينئ ، سپين رنګ، نغمه ريز خبرو او مکېزونو داسې عکس وړاندې کوي چې کتونکي په مجبور کړي د هغهٔ د محبوب بې د ليدلو د هغهٔ د حسن ګواهي ورکړي ـ

ستا د ښکلا او پيغلتوب په رنګينو مې قسم
نن دې تنکي ښائست اخستي دي پاخهٔ رنګونه
ستا د سپين مخ په فضاګانو د سرو سترګو خمار
لکه چې اونولي شفق په پرېوتهٔ رنګونه
دا ستا نشې نشې ګتل او موسېدل د ګلو
دي د سپرلي په مېخانه کښې نور د څهٔ رنګونه
دا د شرابو پيمانې چې ورته سترګې وائي
د ګلابي شونډو نه ئې واخستل سره رنګونه
ستا د ښيښې غوندې بدن کښې د رڼا پلوشې
ستا په عارضو د ځپه ؤ پيو اومهٔ رنګونه ۱٤

ښاغلي ډاکټر اعظم صېب خپل احساسات ، مشاهدات او تجربات په کارولي دي چې د هغهٔ د حسن تصور ئې ډېر منفرد کړے دے ـ دا ځکه چې هغه د حسن و رومان پرستار دے او سره د دې هغهٔ د ماحول په ښکلا هم ژور نظر ساتلو نو دې ټولو محرکاتو د هغهٔ د قلم نه په شعوري توګه هم او زما په خيال په لاشعوري توګه هم داسې ټکي نوستلي دي چې د رومان په دنيا کښې قيمتي ملغلرې ګڼلې شي ـ په لنډو ټکو کښې به دا اووايو چې د يو ښهٔ روماني ليکوال ګڼ شمېر صفتونه د هغهٔ په شاعرئ کښې مونږ ته په نظر راځي ـ

## ماخذونه


۱: يوسفزے، اباسين، ډاکټر، فلېپ، مشموله جنون او ژوندون، يونيورسټي پبلېشرز،پېښور، ۲۰۰۸ء ـ
۲: اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، جنون او ژوندون، يونيورسټي پبلېشرز،پېښور، ۲۰۰۸ء ،مخ ۲۱٤ـ

۳: هم دغه اثر،مخ ۲۱۸۔
۴: سائل، رحمت شاه، سره زما مرکه، ځاے ورتېردرګئ، ۱۳مئ ۲۰۱۹ء ـ
۵: اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، جنون او ژوندون،مخ ۱۱۳۔
۶: هم دغه اثر،مخ ۱۱۹۔
۷: هم دغه اثر،مخ ۲۳۹۔
۸: وزیر شادان،ډاکټر، مشموله تاتره، اعظم نمبر، پښتو ادبي بورډ پېښور، جولايي ـ دسمبر ۲۰۱۳ء ، مخ ٦٦ ـ
۹: اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، جنون او ژوندون،مخ ۱۰٤۔
۱۰: هم دغه اثر، مخ ۱۰۷۔
۱۱: هم دغه اثر،مخ ٤۱۔
۱۲: هم دغه اثر، مخ ۲۸۳
۱۳: هم دغه اثر، مخ ۲۸۵۔
۱۴: هم دغه اثر،مخ ۲۷۵۔